مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

معصوم هوتک
۲۰۱۹/۰۷/۲۳

# د تاریخ نخرې

نصیبه! بیا مې کښېنوې د مات رباب نغمې ته
تندیه! بیا دې نوم راوخوت د ګرداب غوټې ته

اسمانه! بیا دې دام زما د کښېپیستلو سر کړ
زمانې! بیا مې کشوې په آب و تاب دانې ته

چې دې چورتونه په دامان کې د ټوپونو وهل
سپرلیه! بیا خملول کېږې د قصاب چړې ته

چې غورځېدلې د آرام سبا له هیلو سره
زړګیه! بیا ئې کړې تسلیم د اضطراب شپېې ته

د نوي ژوند د ارمانو دنیا دې رنګه وینم
زلمیه! بیا جوړ سوې منصور شان د تناب حلقې ته

د آرامۍ ګوله ئې خدایږو پر تا نه لورېږي
زنګیه! بیا دې ګوا، تړي د بل عذاب ټمبې ته

وینم چې سپور یې په بېړۍ کې د ساحل په تمه
وروړکیه! فکر دې هم وي د تریخ دریاب څپې ته

ته په شپېلۍ کې ویښوې په مرګ بیده سرونه
شپونکیه! ړوند یې؟ رمه ولاړه د سېلاب وخولې ته

د وینو تږی دي په ټول ژوند اوبېده نه لري
لالیه! بیا دې دښمن مست سو د کباب لمبې ته

د زهرو غوړپ دئ درکوي ئې د شربت په نامه
تږی دې باسي له کوثره د سراب چینې ته

د حوادثو و تکرار ته، د زمان لوبو ته
معصوم هک پک زموږ د تاریخ د فصل و باب نخرې ته

آشاوا، کانادا
22 جولای 2019 ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ